ولی محمد خادم ۲۰۱۵/۰۲/۰۲

دهلمند په اړه لنډه لیکنه

لرغونی هلمند دپښتو ژبی دعلم ، فرهنګ، تمدن اوحماسو ذانګو چی دافغانستان په سهیل لودېځ کی پروت دی، چی شمال ختیځ ته یی د غور، دایکندی اوارزګان ولایتونه، ختیځ ته یی کندهارولایت، لودېځ ته یی نیمروز ولایت او شمال لودېځ ته یی د فراه ولایت او په سهیل کی دګاونډی هیواد پاکستان سره سره سره (۱۶۲)کیلومتره ګډه پوله لری. چی دعرض البلد ۳۰-۲۹ او طول البلد په ۶۹-۶۱ درجو کی واقع ده چی شمالی برخه یې یو سلسله غرونه او جنوب ته یې لویی بېدیاوی او ریګونه پراته دی، د تودوخې کښته درجه (۱۲) فارنهایټه او لوړه درجه تر(۱۲۱) پوری رسیږی، د اورښت اندازه تر (۴،۸) (۳،۷) انچ پوری اټکل شویده. او طبیعی اقلیم یی د زراعتی اقتصاد د لپاره مساعد دی.

اوسنی هلمند ولایت (۶۱۸۲۹) کیلومتر مربع مساحت لری چی د هیواد تقریباً (۹٪) مساحت مځکه تشکیلوی او د ۱۳۹۲ کال د هیواد د وګړو داټکل کتاب له مخی (۹۰۹٤۰۰) تنه وګړی لری چی ددی جملی څخه (٤٦٦۹۰۰) تنه نارینه چی ۵۱ سلنه نارینه دی او (٤٤۲۵۰۰) تنه ښځینه چی ۴۹ سلنه ښځینه دی که په واقعی ډول وشمیرل سی یو نیم میلیون وګړی په هلمند کی اوسیدنه لری ځکه د ۱۳۵۸ کال راپدی خوا په هلمند او افغانستان کی د وګړو شمیرنه د اوضاع د نه مناسب والی او اقتصادی ستونزو له امله نده ترسره سوی، د هلمند د وګړو شمیرنه چی ترسره سی درشت د زیاتوالی له امله، د ګاونډیو هیوادو نو څخه د افغانانو دراستنیدلو له امله، او همدا رنګه د نورو ولایتونو څخه هلمند ته د وګړو راتګ داراته ښودلی سی چی د هلمند نفوس شمیر به تر یو نیم میلیون هم لازیات وی، او هلمند ولایت د مرکز په شمول (۱۵) اداری واحدونه لری چی دوه یی موقتی ولسوالیو په نوم یادیږی چی د هلمند اداری واحدونو نومونه عبارت دی له (نهر سراج ولسوالی، نادعلی ولسوالی، ناوه بارکزاېي ولسوالی، ګرمسیر ولسوالی، کجکی ولسوالی، باغران ولسوالی، موسی قلعه ولسوالی، سنګین لسوالی، خانشین ریګ ولسوالی، دیشو ولسوالی، مارجه موقت ولسوالی، واشپر ولسوالی، نوذاد ولسوالی، ناومیش موقت ولسوالی او د لشکرګاه مرکز دی) ، او (۱۷۳۹غټ کلی لری چی ورته د شمار ساحه (کلستر) هم ویل کیږی لری.

دهلمند فرهنګی، ټولنیز اوعلمی حالت:

■ ۱- **فرهنګی حالت:**

هیتومنت، هندمند، تومان، تومانت ، ایتا مندروس هیرمن اوننی هلمند له زرګونو کلونو راهیسې داداب اوفرهنګ په ډګر کې مخکښ وو، په دوهمه هجری پیړۍ په نیمایی کې دپښتو لومړی شعر چی لاسته راغلی دجها پهلوان امیر کروړ وو اودهلمند په اوسنی باغران (باغ آرام) کې ویل شوی دی.

په دریمه هجري پیړۍ کې دپښتو دنثر لیکلو بنسټ ایښودونکی ابوهاشم سروانی دی چی دهلمند دسنګین ولسوالی په ساروان کلا کې دنیا ته راغلی.

لومړی پښتو قصیده دشیخ اسعد سوري له خوا په زمینداور (زینداور) اوبغنی کې دامیر محمدسوری په هکله کې ویل شوې ده.

دپښتو ژبې لومړنی چاربیته دپښتو شاعر تایمنی له لوري په همدی هلمند کې دسلطان شهاب الدین غوري په دوره کې ویل شوی ده.

دپښتو لومړنی غزل داکبر زمینداوری لخوا دګوډ تیمور په زمانه کی ویل شوی اودپښتو ادب په تاریخ کې درستم، فتح خان بړیڅی اورابیا حماسی داستانونه زموږ ملي ویاړونه دی.

■ ۲- **علمی حالت:-** په هلمند ولایت کې (۳۵۳) فعال ښوونځی شته چی (۱۲۰۴۳۳) هلکان او (۳۸۹۸۵) نجونې پکی زده کړی کوی او (۸) خصوصی ښونځی او په سل هاو کورسونه هم پکی شامل دی .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دیو دولتی پوهنتون ترڅنګ دری خصوصی پوهنتونونه چی پکی کرنی پوهنځی، اقتصاد پوهنځی، طب پوهنځی، حقوق اوعلوم سیاسی پوهنځي، انجنیری پوهنځي، دتعلیم او تربیی پوهنځی او داسی نوری پوهنځی پکی شاملی دی چی دهیواد دمختلفو هیوادونو په سل هاو محصلین پکی هم تدریس کوی.
په هلمندکی دیو ښوونکی دروزنی دموسسی، تخنیکی اوفنی انستیتوت، اداری اومنحمنت انستیتوت ،داقتصاد انستیتوت او زراعت زراعت انستیتو ت او یو بل خصوصی داحمدشابابا دطب انستیتوت شتون لری چی پکی زدکړیا لان خپل زده کړی حاصلوی.

- ۳- **ټولنیز حالت:-** په هلمند ولایت کي تقریبا دهیواد دهري سیمی اوسیدونکی میشت دي ، ځمکي ، کار وبار اویا رسمي دندي لري چی دی ولایت ته یي دملی یوالی دسمبول حیثیت بخښلی دی.

په هلمند ولایت کي ټول قومونه اوملیتونه دیوبل په څنګ کي په خورا مینه ،ورورولی اوخوشالي سره ژوند کوي چي الحمدالله ترنن ورځی پوري هیڅ نوع مشکل اوسوء تفاهم یي ترمنځ ندی راغلی .
زرګونه کاله کیږي چی دهلمند سند څپان، څپاند روان دی، کاږه واږه ګامونه اخلی، لاري بدلوی اود هلمند وچي دښتي اوبوي اوخړوبوي.
هلمند سیند چي دپیدایښت اوازل له لمني نه رازیږیدلی اورابهیدلی، بیا ودرېدلی نه دی، ستړی شوی اوستومانه شوی نه دی ، پرخپل سخاوت پښېمانه شوی نه دی اوله خپل هوډ نه ګرځیدلی نه دی.
دهلمند سیمه شنه اوسمسوره سیمه ده ، دپریمانی سیمه ده اودودانی، حاصلخیزه سیمه ده اوزخیره، تاریخي سیمه ده اوطبیعی، دژوند سیمه ده او دخوند.
خدای دوکړی چی دافغانستان په ټولو ولایتونو کی امن اوثبات رامنځته سی ترڅو داخلی اوبهرنی سیلانیان وکولای سی دافغانستان دولایتونو اوتاریخی ځایونو څخه لیدنه وکړی، زموږ ګران هلمند کی مرکزی اداره خپل پام ورته راواړوي دتفریح او تاریخ له مخی غنی او ښکلی ځایونه لری په امید دهغه ورځی چی افغانستان اباد اوسرلوړی ووینو.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ